
# د بي بي سي څېړنه: ۷۰ سلنه افغانستان د طالبانو تر گواښ لاندې دی




د بي بي سي يوې څېړنې موندلې؛ د هغو طالبانو د ماتې لپاره چې د امريکا تر ملاتړ لاندې څواک پرې ملياردونه ډالر مصرف کړي، اوس په ښکاره توگه د افغانستان په ۷۰سلنه خاوره کې فعال دي. د افغانستان په گوټ گوټ کې دغې مياشتينۍ څېړنې موندلې چې په ۲۰۱۴م کې د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته د افغانستان ډېری سيمي د طالبانو تر گواښ او يا هم کنټرول لاندې دي. په کابل او د افغانستان په نورو سيمو کې د طالبانو او د اسلامي دولت(داعش) په نامه ډلې وروستيو بريدونو ډېر خلک ووژل. د دغو بريدونو په ځواب کې افغان چارواکو او د امريکا ولسمشر ډونالد ټرمپ له طالبانو سره خبرې اترې رد کړې. تېر کال ټرمپ ويلي و، چې امريکايي ځواکونه به تر کمې مودې په افغانسان کې پاتې شي.

د بي بي سي د رپورټرانو شبکې په ټول افغانستان کې د ۳۹۹ ولسواليو د محلي سرچينو له ۱۲۰۰ کسانو سره خبرې کړې، چې په دغې زماني موده کې د شورشيانو د حملو هر اړخيز انځور تر لاسه کړي. دا خبرې اترې يا په ټيليفون او يا هم له دوی سره مخامخ شوي دي. ټول تر لاسه شوي اطلاعات د دوو او په ځينو مواردو کې د شپږو منابعو لخوا کتل شوي دي. په ځينو مواردو کې د بي بي سي رپورټران د اطلاعاتو د بيا کتنې لپاره هغو اړو ته تللي، چې خلک ترې لږې سيمو ته سفرونه کوي. د دغه څېړنيز رپوټ پايله ښيي، چې ۱۵ميليونه تنه يعنې د افغانستان نيم نفوس په داسې سيمو کې ژوند کوي چې يا د طالبانو په کنټرول کې دي او يا هم په علني توگه پکې حضور لري او په پرله پسې د دوی تر بريدونو لاندې دي.

د بي بي سي څېړنه ښيي چې اوسمهال د افغانستان ۱۴ ولسوالۍ(د افغانستان څلور سلنه خاوره) د طالبانو په پوره کنټرول کې ده، همداراز په ۲۵۳ نورو ولسواليو(٦٦ سلنه افغانستان) کې فعال او علني حضور لري. د طالبانو د قدرت دا کچه له هغې څو برابره زياته ده، چې مخکې يې وړاندوينه کېده. په هغو سيمو کې چې طالبان فعال او علني حضور لري، شورشيان د دولتي ځواکونو پر اډو؛ د ملي ځواکونو پر کمپونو له ډله ييزو بريدونو نيولې ان د پوليسو او ځواکوتو کاروانونو ته تر کمينونو پورې، په انفرادي او ډله‌ييزه توګه بريدونه کوي.

کلونه کلونه کېږي امريکا او ملاتړي يې هڅه کوي پر افغانستان باندې د طالبانو د واکمنۍ حقيقي انځور پټ کړي؛ خو د افغانستان پر پلامېنه د طالبانو پرله پسې بريدونو يو ځل بيا څرګنده کړه، چې امريکا په افغانستان کې خپل کنټرول او واکمني له لاسه ورکړې ده.

ليکوال: عثمان طه

۲۰۱۸م، د فبرورې ۸مه

ژباړن: حبيب الله